سرلوڅ مرادزی

۲۶ / ۱۱ / ۲۰۱۳

# اوس باید دواړه لوري امنیتي تړون پلی کړي

مشورتي لویه جرګه چې د کورنیو او بهرنیو ټاکلو کړیو له مخالفتونو سره سره، د افغان ولسمشر حامد کرزي په غوښتنه او ټینګار، د لړم په ۳۰ مه کابل ته وبلل شوه، د لیندۍ په دریمه د ۳۱ ماده یز پریکړه لیک په هوکړې سره، په بریالیتوب پایته ورسیده.

د جرګې ۲۵۰۰ تنو برخوالو په غوڅ اکثریت، امریکا سره په امنیتي تړون هوکړه وکړه او له ولسمشر کرزي یې وغوښتل چې دا تړون دې د روان عیسوی کال له پایته رسیدو مخکې لاسلیک کړي. البته اوس امریکا او لویدیځ هم د تړون پر ژر لاسلیک، ټینګار کوي.

دا لومړی ځل دی چې افغانان له یوه هیواد، لکه امریکا سره د امنیتي تړون په هوکړې، د بې پریتوب خپل لرغونی دودیز سیاست، تر شا پریږدي. افغانان، پرامریکایانو او افغان دولت د شکونو او بې باوریو د ترخو تجربو په اوږده شالید سره بیا هم راضي کیږي او د دواړو دولتونو غوښتني ته غاړه ږدي. د سیمې د ځینو هیوادونو لکه ایران او په ګاونډیو کې لکه پاکستان د پوځي او استخباراتي کړیو، مذهبي توندلارو او ترهګرو د مخالفت او ګواښونو سره سره بیا هم امریکا ته د دوستی لاس غځوي او غواړي په دې وسیله د ځو لسیزو اوږدو جګړو ته چې له بهره پر دوی تپل شوي، ښایي د پای ټکی کیږدي او په هیواد کې سولې او ټیکاو ته چې اوس هم افغانانو ته د ځلوب ( سراب ) په بڼه ښکاري، ریښتینی لاسرسي ومومي.

همدارز افغانان د یو نړیوال ځواکمن شریکبانې، لکه امریکا سره د امنیتي تړون په مټ غواړي په۲۱مه پیړی کې د بیرته احیا شوي او نوی افغانستان د بنسټ ډبره کیږدي!

البته د افغان لویې جرګې لپاره اسانه نه وه چې د خپل لرغوني تاریخي شالید سره په ټکر کې داسې یوه پریکړه وکړي، خو په را روسته کې افغانان یوځوا په داسې بوختسه کې راښکېل کړی شول چې له تړون پرته یې د خلاصون بله لار نه لیده او بل پلو په دې پوهیږي چې نړیوال کلي کې د ګوښه توب زوړ ژوند په نویو حالاتو کې وړ او شونی نه ښکاري.

کېدای شي د جرګې ډیری ګډونوالو ته به داسې پریکړه، د افغانستان د دودیز سیاست د رخصتیدو په لامل، د زهرو ګوټ تمام شوې وي، خو دوی ښایي په دې پوهېدل چې خپله د کرزي په واکمنۍ کې ځواکمني مافیایي کړی چې له بېلا بېلو خواوو تغذیه او ساتل کیږي، د امریکا جنګي ماشین او د پنجاب او نورو په ملاتړ ترهګري وسلوالي ډلي او مذهبي توندلاري، ټول سره په ګډه افغانان دي ته اړویستي وي چې د هیواد او افغان ملت د ژغورلو لپاره داسې یو ګام پورته کړي.

همدارز د امنیتي تړون له هوکري سره هممهال، له ولسمشر کرزي څخه د جرګې د ګډونوالو دا غوښتنه چې تړون دې په راتلونکو څو اونیو کې لاسلیک شي، د وخت غوښتني او حساسیت ته د جرګې، ځیرک او پرځای غبرګون ښی.

د ولسمشر کرزي لخوا د امنیتي تړون د لاسلیک د ځنډ ګواښونه، که افغانستان کې د سولې، ټیکاو، ملي واکمنۍ او ځمکنی بشپړتیا ته په اندیښنو سره د هغه پوخ سیاسي تدبیر او ریښتیانی هیوادپالنه وګڼو چې ده هم، خو د ۱۳۹۳ کال ولسمشریزه او ولایتي ټاکنو سره د تړون لاسلیک ته تړاو ورکول او هغه ځندول ښایي د سیاسي تدبیر په موخه نه، بلکې د نورو او شخصي ګټو او ښېګڼو له کبله په پام کې نیول شوي وي!



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په خیر و لولئ

لکه څنګه چې ورته مخکې اشاره وشوه ، افغانستان کې د کورنيو او ځينو پاکستاني او ايراني څرګنده کړيو له مخالفت سره سره بيا هم مشورتي لويه جرګه د ولسمشرکرزي په غوښتنه او ټينګار کابل کې جوړه شوه، خو اوس چې جرګې د امنيتي تړون په تاييد هوکړه کړې، په بېلا بېلو پلمو د تړون نه لاسيک، افغانان او نړيواله ټولنه په سوچ او انديښنو کې ښکېلوي او بلخوا په کور دننه او بهر د افغان دښمنو کړيو او مخالفينو زهرجن تبليغ ته لار اواروي.

په دې لړ کې د پوره خندا وړ د نظارشورا د يو پخواني ډاکو چې راټلونکو ټاکنو کې د ولسمشرۍ مقام ته نوماند هم دی، د ډبل عبدالله دريځ دی. نظارشورا او د هغې په چت کې ځوړند عبدالله او د هغه پشان نورو لنډه غرو تل د مشورتي لويې جرګې د جوړيدو په مخالفت خبرې کولې او په رسنيو او غونډو کې يې د هغې په وړاندې د افغانانو منځ کې بې باوري رامنځته کوله. داسې تبليغ د دولت وسلوالو مخالفينو او يا په پاکستان او ايران کې ټاکلو کړيو هم په لار اچولې وو، خو په تازه څرګندونو کې عبدالله اوس ځان د لويې جرګې د پريکړو د پليتوب ريښتنی ساتندوی راپيژني او پر کرزي نيوکه کوي چې ولې د داسې پريکړې لاسليک ځنډوي!

عبدالله او ډله يې لکه د توپان مرغان، د شمال او باد لورى له ورايه پيژني او په هغې خوا ژر کړيږي چې د ډالرو څرک پکې لګيږي. ښايي په داسې اکټونو سره، ټاکنو کې د ځان په ګټه د امريکا د خيرات په تمه وي!

پوښتنه دا ده، کرزی لږه موده وړاندې د مشورتي لويې جرګې په راغوښتلو ټينګار کاوه او په دې اړه يې د بېلا بېلو مخالفينو د تورونو بار پر اوږو اخيستی وو، اوس چې داسې جرګه جوړه شوې او په تړون يې پريکړه کړې، د هغه د نه لاسليک ګواښونه به يوخوا د هغه د دمدمي مزاج او سياسي څېچپانده دريځ څرګندونه وکړي او بلخوا به مخالفينو او دولت کې واکمني نظارشورا ته چې د اپوزيسيون پيښې هم کوي، پلمه په لاس ورکړې چې ووايي کرزی دا هرڅه د ځانپالنې او ځانغوښتنې په نيت او د ملي ګټو په خلاف ترسره کوي!

په هر صورت ولسمشر کرزي چې لويه جرګه د مخالفينو له ګواښونو سره سره په برياليي ډول جوړه کړه او جرګې هم پريکړه تر ډېره حده د ولسمشرکرزي له بيان شويو غوښتنو سره سم ترسره کړه، بلاخره به کورني او بهرني فشار ته ټينګ نه شي او تړون به لاسليک کړي. افغانان اوس ځانونه د امنيتي تړون د پليتوب په درشل کې ګوري او د تړون دواړه لوري بايد بې له ځنډه د تړون پليتوب ته اوږې ورکړي.

د امريکا دا غوښتنه چې افغانستان سره يې امنيتي تړون تاريخي هيله وه، په ښه توګه ترسره شوه. امريکا او په ټوله کې لويديځ په ۲۱ مه پيړۍ کې د خپلو ګټو لپاره د اسيا په دې برخه، لکه افغانستان کې د پاتې کېدو ليوالتيا لري. افغانستان هم امريکا او لويديځ سره د اړيکو د ټينګولو او د خپل تاريخي ګوښه توب څخه د وتون لپاره لويديځ او نورو هيوادونو سره ستراتيژيکو تړونونو اوامريکا سره امنيتي تړون ته چې د هغو بشپړونکی دی، اړتيا ويني.

په دې لامل، د تړون په ګټه د لويې جرګې په پريکړه امريکا خپله خوشحالي نه شي پټولای. تر دې دمه په امنيتي تړون دواړه لوري خوښ ښکاري. افغانانو هم په تړون کې له ګټې پرته، تاوان نه دی کړی.

د تړون ډېره برخه ، افغانستان سره د امريکا ژمنو ته بېله شوې. البته په تړون کې افغان لوری هم ټاکلې ژمنې لري چې هغه بايد پخپل وخت پلې کړي.

په تړون کې د افغانستان غټه ژمنه، امريکا ته په اتو زونونو کې د اډو ورکړه ده چې نن هم امريکايان هلته شتون لري او دا ماده پلې شوې بوله. دا چې څو زره امريکايي سرتيري به له ۲۰۱۴ کال روسته په افغانستان کې پاتيږي، د اډو په نښه کيدو سره د نوموړو سرتيرو د پاتې کيدو خبره هم حل شوې او پلې شوې بريښي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په خير و لولئ

له افغان لوري د تړون په پلیتوب کې ستونزه نشته، خو دا چې د کرزي په اداره کې د یوې وړې فاسدې ډلګۍ پرځای یوه کاري، مسلکي، هیواد او افغان ملت ته ژمنه اداره رامنځته شي او امریکا د بېلګې پتوګه په ټولټاکنو کې افغانانو سره د یوې داسي اداري په رامنځته کولو کې همکاري وکړي. د موجدې فاسدې اداري په واکمنۍ کې خورا ښه قانون، ژمنه او تړون د پلي کېدو وړ نه دی!

اوس د امریکا وار دی چې تړون کې کړې ژمنې یو په یو پلي کړي. د بېلګې پتوګه په تړون کې د دوهمې مادې په لومړۍ فقره کې یادونه کیږي« دواړه لوري په افغانستان کې د امنیت او ثبات د ټینګښت، له تروریزم سره د مبارزې، د سیمې او نړۍ د سولې او امنیت په تأمینولو کې د ونډې اخیستنې لپاره د نږدې همکاریو پیاوړتیا ته دوام ورکوي او د افغانستان توان لوړوي ترڅو د خپل ملي حاکمیت، امنیت، ځمکنۍ بشپړتیا او ملي یووالي او د اساسي قانون پر بنسټ د ولاړ نظام پر وړاندې کورني او بهرني ګواښونه دفع کړي. د متحده ایالاتو ځواکونه په افغانستان کې محاربوي عملیات نه شي ترسره کولای، مګر دا چې دواړه لوري په بل ډول توافق وکړي.»

دلته افغان لوری پورته ژمنو کې خپله ونډه هم د امریکا له مرستې او ملاتړه پرته په یوازې ځان نه شي پلی کولای. په دې توګه د امریکا همکاري او مرسته د افغانانو د بعدي ګام لپاره لومړي او اړینه ده.

که څه هم د امنیتي تړون د بشپړ پلیتوب وخت له ۲۰۱۵ کاله پیلیږي، خو د زیاتو موادو پلیتوب یې باید له ننه پیل شي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ